انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۱۲/۲۷

## د ۱۳۵۸ هـ، ش کال د جدی شپږم

# د افغانستان د بربادۍ دریمه ورځ!

د سرلیک د لوستلو سره سم، هر لوستونکی ته شاید سوال پیدا شي چې د افغانستان د تباهي او بربادۍ د پاره چې د جدی شپږم، دریمه ورځ وی نو دوه نوری ورځې به کومې وي؟ زما په اند ډیر امکان لری چې د پاخه عمر لرونکو دوستانو ته به دا پوښتنه پیدا نه شی، خو د کم عمر لرونکی او ځوان لوستونکی خامخا د دوه نورو تباه کونکو ورځو پیژندنی ته اړتیا لری.

د افغانستان د تباهي، بربادۍ، خرابۍ، ویجاړ تیا او د افغان ولس د در په دری بنسټ د ۱۳۵۲ هـش کال د سرطان د میاشتی (۲۶) نیټه ده. همدا لومړۍ ورځ وه چې په هیواد کی مشروطه شاهی نظام را نسکور شو اود مطلقه جمهوری نظام بنسټ د شهید سردار محمد داود تر مشری لاندی کیښودل شو. د محمد ظاهر د سلطنت څلویښت کلنه دوره چې د ملي امنیت له مخی یوه ارامه او د ټولنیز پرمختګ له مخی یوه ناکامه، سسته او د اقتصادی ستونزو نه ډکه دوره وه پای ته ورسیده. شاید دا پوښتنه هم پیداشی چې جمهوری نظام څنګه مطلقه کیدلی شی؟ د دی مثالونه په نړۍ کی بیخی زیات دی، د کمونیستی رژیمونو نه غیر په نورو مخ په انکشاف هیوادونو لکه په لیبیا کی د قذافی، په عراق کی د صدام حسین، په سوریه کی د حافظ اسد او بشار اسد او همدی ته ورته په نورو اسیایی ، افریقایی او د لاتینی امریکا په هیوادونو کی دا ډول د مطلقه جمهوریت لرونکی هیوادونه ډیر دی. زمونږ په هیواد کی هم لومړی جمهوری نظام چې مشريی شهید سردار محمد داود خان و همداسی یو مطلقه جمهوری نظام و. څکه سردار داود خان هم جمهور رئس و، هم صدراعظم و، هم جارجه وزیرو او هم تر یوه وخته پوری د دفاع وزیر. شاید دا به یا له دی کبله و چې سردار صاحب یا په چا باور نه درلود، یایی دی پوستونو ته په ټول هیواد کی وړ او مناسب کسان نه درلودل او یا به بله کومه وجهه وه، خو حقیقت همدا دی چې نه پارلمان و، نه سیاسی ګوندونه وو او نه هم مدنی ټولنې، نو له دی کبله دا ډول جهوریت ته که د مطلقه جمهوریت نوم مناسب نه وی نو څه ډول نوم باید ورته کیښول شی؟

و مو ویل چې د سرطان ۲٦ نیټه د افغانستان د بربادی لومړۍ ورځ ده، ولی او څنګه دا لومړۍ ورځ کیدلی شی؟ د دی پوښتنې ځواب ډیر ساده دی او هغه داچې همدا ورځ وه چې د افغانستان د خلکو د راتلونکی برخ لیک ټاکل په نسبی توګه د چپو افراطی عناصرو په لاس ورغی او د ښی لاس افراطیانو ته یی چې دواړه خواوی د شاهی نظام د بی بندوباره دموکراسی د کلونو محصول وو، په هیواد کی د سیاسی وسله والو نارامیو د پاره بهانه جوړه کړه. چپ افراطی عناصر په پراخه پیمانه چې د وخت د شوروی اتحاد د کمونستی دولت پیروان ول د لومړنی جمهوری نظام په رهبری کی بی له دی چې د ملت د پاره د کار کولو کیفایت ولری او یا د ښی راتلونکی د پاره ښه نیت ولری را څرګند شول. دا کسان ټول د اردو واړه صاحب منصبان ول چې د شوروی دولت د (کی،جی،بی) دسازمان په مرسته، د (جی آر، یو) پوځی استخباراتو د اداری له خوا، د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند د جوړیدو نه یوکال د مخه (۱۹٦٤) کی د افغانستان په اردو کی د سیاسی تحولاتو په منظورد (سازمان مخفی انقلابی افغانستان) په نوم تاسیس کړی و. څیرونکی عبدالقدوس لودین د خپل تحقیقی اثر( افغانستان جولانګاه افراطګرائي) په (۵۰) مخ کی د (جنګ در افغانستان) د کتاب په حواله چې د د فدراتیفی روسی د نظامی تاریخی څیړنو د انستیتوت د محقیقینو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

له خدا تالیف شویدی داسی لیکی: «درسالهای شصت، روند سیاسی شدن ارتش تشدید یافت. دستاورد مستقیم این هنگامه، ایجاد سازمان زیرزمینی انقلابی ارتش بتاریخ دهم سپتمبر ۱۹٦٤ بود که هدف خودرا سرنگون ساختن سلطنت و توسعهٔ افغانستان در راه رشد غیر سرمایه داری قرار داده بود. مقارن با سالهای ۱۹۷۰ افسران چپگرا تماس ها با افسران دارای روحیه ضد سلطنتی هوادار محمد داود برپا نمودند و امید وار بودند که به کمک او نه تنها شاه را سرنگون نمایند، بلکه قدرت به دست آمده را نیز در دستهای خود نگهدارند. در ما جولای ۱۹۷۳ ارتش دست به یک کودتای دولتی زد که در نتیجه آن در کشور سلطنت سرنکون و نظام جمهوری برپا گردید. ........ در قیام ضد سلطنتی ارتش، نقش سازنده را افسران و درجه داران و هوا داران خلق و پرچم بازی کرد»

همدارنگه عبدالقدوس لودین د همدی اثر په ۵۷ مخ کی داسی لیکی: « انتصاب فیض محمد در وزارت داخله به جناح پرچم فرصت داد تا حدود ۱۶۰ تن از پر چمیها را در ولایات و محلات در پستهای حساس بگمارد و خوف استیلای کمونستها در دولت را در دل مخالفان افزون سازد»

د ی حالاتو په راتلو او لیدو سره د افغانستان په کورنیو چارو کی د لاس وهنو د پاره خصوصاً د گاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران ته بهانه پیدا شوه او د پاکستان له خاوری خو لا د ځوان جمهوریت په هماغو اولو شپیو کی د هیواد په ځینو برخو کی د هغو ښی لاسو ډلو له خوا چی یو څو مشران او طرفداران یی لا د مخه پاکستان ته تللی ول ،وسله وال بریدونه وشول چی د ماتی سره مخامخ شول. ډاکټر حسن شرق په خپل کتاب (کرباس پوشهای برهنه پا) کی دی موضوع ته داسی اشاره کوی: « .... در ظرف همین سال(۱۳۵۲) طرفداران چندین سازمان راکه بصورت علنی از طرف پاکستان تقویه و در پاکستان سکونت داشتند، دسگیر و به محاکمه سپردند. .... سرطان ۱۳۵۴ بیانگر حوادث ناگوار دیگری بود که باز هم پیروان گروه های زکر شده یکجا از پاکستان آمده بودند و دست به دهشت مسلحانه در بعضی مناطق کشور در جریان روزهای تجلیل سالگرد نظام جمهوری زدند. خوشبختانه توطئه گران نتوانستند از پشتبانی مردم برخوردارشوند و درنتیجه قسمت زیاد آنها دوباره به پاکستان پناه بردند.»

د همدی ورځی (د سرطان د ۲۶) نه وروسته په دولتی زعامت کی شاملو شوروی پلوو، د ډاکټر حسن شرق په مشری د پرچم د ډلی په دستور د (کی،جی،بی) د پلا ن سره سم د پخوانی صدراعظم محمدهاشم میوندوال په مشری د یوی کودتا تور و لګاوه او په دی توګه یی له یوی خوا د هیواد نظامی او ملکی هغه ملی اشخاص چی دی ډلی ورنه دا ویره لروده چی که دوی د سردار داودخان تر څنګ ودریدل نو ددوی هغه پلان چی شوروی له خوا د افغانستان د راتلونکی د پاره طرح شوی و، نه شی تطبیق کیدلی، نو هماغه و چی ۴۴ تنه یی د کودتا په تور ونیول، چی له دی جملی څخه یی د میوندوال په شمول خان محمدخان مرستیال، ماما زرغون شاه شینواری، د هوای مدافع قوماندان سید امیر، وکیل سیف الرحمن شینواری او سوداګر محمدعارف شینواری و وژل، نور ګڼ شمیر یی په عمری قید او اوږدی مودی بند محکوم کړل.

د دولت ریس او لومړی جمهور رئیس یی دی ته و هڅاوه چی صدراعظم محمد موسی شفیق هم باید و وژل شی، خو سردار صاحب د هغه د وژلو طرحه ځکه و نه منله چی د هغه په وطنپالنه او مسلمانی باندی پوره باور لروده او غوښتل یی چی په راتلونکی وخت کی یی له وجود څخه د شوروی نه د لری کیدو په پلان کی تری ګټه واخلی، چی له بده مرغه هغه وخت را ونه رسیده. په لنډه توګه ویلای شو چی سردار محمد داود خان یو ښه وطنپال، ښه مسلمان، د لوړو اخلاقو خاوند شخص و، خو د دی سره سره یا به خوشباوره و، یابه یی سیاسی ناتوانی لروده ، یا به یی په ځان باندی کاذب باور لروده او یا به یی څه داسی ناروغی لروده چی دوست ورته دښمن او دښمن ورته سترګو ته دوست راشی. چی د همدی عواملو په نتیجه کی یی هم ځان د خپلی بی ګناه او معصومی کورنی سره یوځای تباه کړ او هم یی د هماغو ورو ظابطانو په لاس چی ده وربادی د هر چا نه زیات باور درلوده د ټول وطن د تباهی د تاداو ډبره په خپلو لاسو د ۱۳۵۲ کال د سرطان به ۲۶ نیټه باندی کیښودله. هغه د ټولی کورنی سره په شهادت ورسیده خو یاران یی بیاهم وزیران شول او مشر یار(ډاکټر شرق) خوبی د هماغه شوروی له خوا چی د

ده سره یی ملګری کړی و، آن تر صدارته پوری هم ورسیده، او پخپله وایی چی د جمهوری ریاست مقام هم روسانو ده ورکاوه خو ده (شرق) قبول نه کړ.

د افغانستان د تباهی او بربادی دوهمه ورځ چی د ټولو بدو او ناوړو تاریخی ورځو په لړکی تر ټولو ستره او توره ورځ ده هغه د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشی اومه ورځ ده. زه دی ورځی ته د سرطان د ۲۶ ورځی د لور په سترګه ګورم چی د همغی په لمن کی رالویه شوه او د وطن د خرابی د پاره چی مور کوم تخمونه کرلی ول، لور ورته ښه، سره او اوبه ورکړل او د زهرو ښه بار داری ونی یی تری جوړی کړی.

داچی ولی په جمهوری نظام بله تباه کونکی کود تا وشوه د څیرونکو او محقیقینو له نظره هم کورني او هم بهرني یا نړیوال لاملونه لری. په کورنیو عواملو کی لوی عامل دا په ګوته شویدی چی د یو کال وروسته سردار داودخان دا درک کړله چی دده چپی ملګری ده ته ښه نیت نه لری، وطن ته هم وفادار نه دی او د راتلونکی د پاره د افغان ولس د پاره د لویو بدبختیو او پردیو ته د وطن د سپارنی د پاره کارکوی. د همدی درک نه وروسته یی د هغوی له وجود څخه په احتیاط سره د پاکولو تصمیم ونیو.

د مجاهد ولس اخبار د ۱۹۹۸ کال د اګست د میاشتی په ګڼه کی د ډاکتر حسن شرق له قوله داسی لیکی: «... ولی ډیر ژر د کودتا ملګری او مخصوصاً د مرکزی کمیټی اوه غړي د محمد داود خان له نظره ولویدل او د حساسو مقامونو څخه لیری کړای شول، او محمد داود خان پر هغو کسانو تکیه پاتی شو چی مونږ د هغو پر ضد کودتا کړیوه». همدا مطلب په عین ښه عبدالغفار فراهی هم د خپل اثر (افغانستان د دمو کراسی او جمهوریت په کلونو کی. په ۲۵۳ مخ کی راوړی دی)

ښاغلی فراهی د همدی اثر په همدی مخ او ۲۵۴ مخ کی د ډاکتر شرق د همدی مطلب د صحت د پاره د سلیګ هریسن له قوله داسی لیکی: « تر کودتا یو کال وروسته محمد داودخان په دولت کی تصفیه پیل کړه، ده د ۱۹۷۴ کال د جولای په میاشت کی دوه سوه د اردو هغه نظامی افسران لیری کړل چی په شوروی اتحاد کی یی تحصیل کړی و. او د همدی کال د اکتوبر په میاشت کی څلویښت نور همدغه ډول صاحب منصبان د اردو څخه وایستل. ده شوروی اتحاد ته د نظامی افسرانولیږل محدود کړل او ځیني عسکری صاحب منصبان یی هند، مصر، ترکیی او امریکا ته ولیږل» نوموړی لیکوال په ادامه لیکی:«داود خان د ملی انقلاب په نوم ګوند جوړ که او په اساسی قانون کی یی د نورو سیاسي ډلو فعالیت منع کړ، نورو سیاسی ګوندونو د محمدداودخان د دغه تصمیم سره مخالفت وکړ او د جمهوری نظام په ضد یی وسیع تبلیغات پیل کړل» نبی عظیمی په خپل اثر کی لیکی : «... محمد داود خان د عظیمی په شمول ډیر پرچمیان د دولت د حساسو ځایونو څخه لیری کړل. او ده په واضح ډول پر ټولو چپو جریاناتو د بطلا ن لیکه کش کړه. په همدی توګه د ګوند مرکزی کمیټه په دوه برخو و ویشله شوه، چی یوی خواته محمدداودخان، عبدالاله،عبدالقدیرنورستانی،غلام حیدر رسولی، سرور نورستانی او غوث الدین فایق وو او بلی خوا ته ډاکټر محمد حسن شرق،فیض محمد،جګرن ضیا مجید،ډګرمن محمدیوسف او جګرن مولاداد واقع شوی وو. د همدی اختلاف نه وروسته حسن شرق په جاپان، فیض محمد په عراق کی سفیران شول او ضیاء مجید هند ته د نظامی اتشی په توګه و لیږل شول، نو د مرکزی کمیټه هم له منځه ولاړه، داودخان او دده ډلی د دولت ټول قدرت به لاس کی واخست»

کله چی د د جمهوری نظام د پلان وزیر علی احمد خرم په رڼا ورځ په داسی حال کی چی د کوم خارجي دولت د هئت سره یی لیدنه لروده د خپل کار له دفتر څخه و ایستل شو او د پلان د وزارت په مخ کی و وژل شو او قاتل هم په تیښته بریالی شو، نو په امنیتی لحاظ په جمهوری نظام باندی د خلکو باور ته لوی زیان ورسیده.

همدا وخت و چی د جمهوری نظام داخلی او خارجی دښمنان په ګډه لاس په کار شول. په ۱۹۷۷ کال کی د شوروی اتحاد د کمونست ګوند د فشار راوړلو له کبله د خلق او پرچم ډلی د هند او عراق د کمونستی ګوندونو په منځګړیتوب سره د خلق دموکراتیک ګوند په نامه متحد شول او په جمهوری نظام باندی د وسله وال ګزار د پاره په تیاری نیولو بوخت شول. که خبره را لنډه کړو نو د ایران سره د هیلمند داوبو د معاملی نهای کول چی لا پخوا د شاهی رژیم په وخت کی د صدراعظم محمد موسی شفیق له خوا موافقه پری شویوه، د پاکستان سره د پښتونستان د معضلی د حل کیدو تصمیم او کابل ته د پاکستان د کودتایی جمهور رئس جنرال ضیاوالحق سفر، پاکستان، ایران، ترکیې، مصر، سعودی عربستان او نورو هیوادو ته د سردار داودخان

سفرونه او د افغانستان سره د دې هیوادوله خوا د مرستو ژمنې چې په حقیقت کې د شوروي اتحاد څخه د افغانستان د دولت د لیرې کیدو د پاره وې، او همدارنګه د متحده ایالاتو په شمول نورو هیوادونو ته د سردار محمد داود خان د راتلونکو سفرونو پلانیزه کیدل ټول هغه عوامل ول چې د جمهوري نظام د ختمیدو د پاره یې، هغه هم د شوروي دولت په لاس زمینه برابره کړه، تر څو دا شوم پلان او د افغانستان د ملت د بربادۍ دوهمه ورځ د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتې د اومې نیټې سره برابره شوه.
په هره وسیله او د شوروي اتحاد د جاسوسۍ د هر زسازمان (کې، جي، بي) یا (جي، آر، یو) په رهبرۍ چې و،د ۱۳۵۲هـ،ش کال د ثور په اومه یا د ۱۹۷۸ عیسوي کال د اپریل په ۲۷ نیټه د یوې خونړۍ کودتا په کولو سره د سردار محمد داودخان جمهوري نظام رانسکور او د همدې ورځې د ماښام د اوو بجو په شاوخوا کې د (افغانستان د وسله والو قواو د انقلابي شورا) تر نامه لاندې د اعلامیې په نشر یدو سره د ډګروال عبدالقادر او جګړن محمد اسلم وطنجار له خوا، د کودتا دبرې خبرد افغانستان خلکو ته درادیو له لارې ور واوریدل شو. دا هماغه پوځي افسران وو چې، په ۱۳۵۲ کال کې د شوروي اتحاد پوځي استخباراتو د (جي، آر، یو) د سازمان په دستورځانونه مستقل او د سردار محمد داود خان طرفداران معرفي کړي ول او د ډاکټر محمد حسن شرق په وسیله یې د سرطان د ۲۶ نیټې په کودتا کې فعاله ونده درلوده او بیا یې د دویم وار دپاره د یاد سازمان په دستور د حفیظ الله امین په قومانده د ثور د اومې نیټې د کودتا په بریالیتوب کې ستره ونډه در لوده. همدې ډلې د دریم وار د پاره د تره کي په طرفدارۍ د امین د له منځه وړلو د پاره هم اقدام وکړ، خو داکرت بریالی نه شول او امین په دې و توانید چې هم دا ډله تیښتې ته اړباسي او هم په اساني سره تره کي لومړی له قدرت نه لیرې کړي او بیایې و وژني. دا اوږدې کیسې دي او زمونږ د دې لیکنې موضوع نه ده نو ځکه یې همدلته پریږدو.
د افغانستان خلک د تاریخ په ټولو اوږدو کې د پردیو حکمرانانو له لاسه دومره نه دي زوریدلي لکه د خپلو زمامدارانو د لاسه چې د کړاوونو او بد بختیو سره مخامخ شویدي، نو ځکه که په دې وطن کې هر ډول تحول د هر چا له خوا نه راغلی دوی ورته خوشالي کړیده او د هغه ملاتړ یې د یوه استبداد نه د خلاصون په هیله کړیدی، خو کله چې دی نا اهلو او د نورو په اراده د متحرکو مهرو پیښې یو څه ټینګې شویدې نو بیا د خپلو بادارانو په اشاره بیرته په همدې خپلو خلکو داسې ناروا ګزارونه کړیدي چې انسانیت ورنه کرکه او ویره لري.
د ثور د اومې نیټې کودتا هم په لومړیو څو ورځو کې سره له دې چې ټول ملت پوهیده چې رهبران یې کمونستان او د شوروي غلامان دي خو بیا هم د ولسونو د پاره په دې خاطر چې د مطلقه زمامداریو دوره یې ختمه کړه او د دوی د شعار( کور، کالي، ډوډۍ) د تحقق د پاره به په رښتیا سره هم د خلکو او ناداره ګړنو په ژوند کې به یو مثبت تغیر راولي، تر ډیره حده د قبول وړ وګرځیده له بده مرغه دی نا اهلو او د شوروي اتحاد د کمونستي استبداد پیروانو د هرې ورځې په تیریدو سره، د خپلو غیر انساني اعمالو په سرته رسولو او د خلکو په منځ کې د ویرې او وحشت ، کرکې او نفرت، بندي کولو، وژلو او هر علاقه دار د بې اندازې اختیاراتو او تر د وژلو پورې د صلاحت لرلو په اثر، د دوی سره د خلکو د مخالفت او دښمنۍ اور په پرله پسې توګه لمبې زیاتولې او تر دې حده د دې وحشي او پراخه شوې چې په ټول هیواد کې یو کلي،کور او حتی یوسر هم ورنه په امان کې پاتې نه شو. د سیاسي مخالفینو په نوم د هیواد ټول هغه منورین او روښانفکران چې د دوی د خط پیروي یې نه کوله زندانونه ته واچول شول، نیم د تحقیق به جریان کې د جسمي شکنجو، وهلو او زجر په ذریعه، له منځه یوړل شول، نیم د زندانو په تورو کوټو کې د ناروغیو او نه تغذیه کیدو په اثر تلف شول او نیم بیا د زندانونو څخه په دې نامه چې خلاصیږي ډلې ډلې په دسته جمعي قبرونو کې نیمه ژوندی د بلدوزرونو په ذریعه ښخ کړل شول.
ولسي مخور سپین ږیرې او د عزت خاوندان مشران د فیوډال په نوم بې عزته شول، وطنپال او د حق د لارې ښوونکي دیني عالمان او روحانیون په دې نامه چې په دوی پسې ناروا تبلیغ کوي او داچې د مذهب پیروان د فیوډالانو او شتمنو تالي څټي دي له منځه یوړل شول او په ځینو ځایونو کې په ښکاره توګه د ی بې مغزو انسانانو، د وطن ټول هغه وګړي چې د دوی سره ملګرتیا نه لري، خپل دښمنان اعلان کړل او ویې ویل چې « هر بې طرفه بې شرفه دی». لنډه داچې د ولس سره د دوی د جفا او تیرې داستانونه، نه د لیکلو په حدودو کې ځای کیدلی شي او نه هم د ویلو.د دې سترو ناروا او فجایعو تر څنګ دوی په خپل

منځ کی هم یو دبل وینو ته ناست ول او په لسکونو ډلو ویشل شوی ول، خو د وړو فرکسیونونو نه غیر د خلق او د پر چم د دوه لویو گروپونو تر منځ میخانیکی یو والی ډیر دوام ونه کړ د زمامداری تر لنډی مودی وروسته د پرچم ډله په مطلقه توگه د سیاسی صحنی نه و وتله او د دی ډلی د رهبری غړی، لکه ببرک کارمل، نور احمد نور، اناهیتا راتب زاد، ډاکټر نجیب الله، محمود بریالی او ځنی نور د سفیرانو په توگه له وطن نه وشړل شول، یو شمیر نوریی څه موده ورسته زندانونو ته واچول شول او په تیټو برخو کی د دی ډلی ځنی غړی خلقیانو ته تسلیم شول او ځنی نور یی پټ او مخفی شول.
د تره کی تر وژل کیدو وروسته چی حفیظ الله امین ټول گوندی او دولتی قدرت په خپل لاس کی ونیو نو د شوروی اتحاد کمونست گوند ته یی د خپلی وفاداری په برخه کی څه شکونه ور پیدا کړل، دا شکونه ورو ورو د امین د ځینو خود سریو په نتیجه کی د شوروی د زعامت د پاره په یقین بدل شول.
سلیگ هریسین په خپل کتاب (حقایق پشت پرده) کی په دی هکله داسی لیکی: « پاکستان د ۱۹۷۹ کال د اکتوبر د میاشتی به ۳۱ نیټه امریکا ته خبر ورکړ چی آمین په ډیری گرمی او شوق سره د افغانستان او پاکستان د رهبرانو د دوه اړخیزو خبرو طرفداری کوی، او د پاکستان خارجه وزیر اغاشاهی ممکن د نومبر په دویمه نیمایی کی افغانستان ته سفر وکړی». هریسن زیاتوی چی « امین د اغاشاهی د سفر د پاره په فعاله توگه کار کاوه او په اشارو کی ی دا سی ښوله چی دی حاضر دی چی د پښتو نستان مسئله به شاته وغورزوی، بلاخره اغاشاهی ومنله چی د دسمبر په ۲۲ نیټه به د کابل نه لیدنه وکړی»
داچی د اغاشاهی د سفر په ورځ په کابل کی ډیری واوری ورید نو د پاکستان پوځ اغاشاهی ته خبر ورکړ چی د واورو د وریدو له امله د ده طیاره د کابل په هوایی ډگر کی نه شی کوزیدلی نو سفر باید و ځنډول شی. ویل کیږی چی په همدی ورځ ډاکتر شاولی د افغانستان خارجه وزیر په هوایی ډگر کی د اغاشاهی د راتلو په انتطار و چی د هغه د نه راتلو خبر ورته ورسیده. ډاکتر شاولی په همدی ورځ اغاشاهی سره تلیفونی خبری وکړی او د هغه نه یی و غوښتل چی د همدی ورځی په راسبا کابل ته سفر وکړی، خو اغاشاهی ورته ویلی ول چی دی مجبورد ی چی سبا ته د جنرال ضیاء الحق سره چی ایران او سعودی عربستان ته سفر لری ملگرتیا وکړی. بلاخره موافقه وشوه چی اغاشاهی به د دسمبر په ۲۹ نیټه کابل ته سفر کوی. د دسمبر په ۲۹ نیټه نور امین سیاسی او فزیکی وجود نه درلود. ځکه چی د دسمبر د میاشتی په ۲۷ نیټه د وخت د شوروی اتحاد د وسله وال تیری په نتیجه کی په قتل رسیدلی و او افغانستان د شوروی اتحاد د مستقیمی اداری لاندی راغلی و.
په افغانستان باندی د شوروی اتحاد د نظامی یرغل انگیزي ځینی څیرونکی داسی بیانوی:
لومړی: اتحاد شوروی په تیرو وختونو کی په دی توانیدلی و چی د پرله پسی کودتاگانو په سرته رسولو سره د ټولو هغو افغان زمامدارانو تسلط ته خاتمه ور کاندی چی د شوروی اتحاد نه د افغانستان د نفوذ د خلاصون د پاره یی هلی ځلی کولی. اوس چی امین د (جی،آر،یو) په سازمان پوری تړلی افغان پوځیان له یوی خوا او د سرسخته شوروی پلوه د پرچم ډله د ببرک کارمل په مشری له بلی خوا عملاُ فلج کړیوه، نو شوروی اتحاد د وسله وال تیری نه پرته د امین د نابودی د پاره بله لاره ونه شوه میندلی.
دویم: شوروی اتحاد د پاکستان سره د امین نژدیوالی ته په دی نظر کتل چی ممکن د پاکستان په مځگړیتوب د امین او د جهادی ډلو تر منځ روغه جوړه وشی او دا روغه جوړه به غربی هیوادونو او د جهادی ډلوطرفدارو اسلامی هیوادونو ته د دی موقع په لاس ورکړی چی د ثور د کودتا لاس ته راوړنی چی شوروی اتحاد یی د بری د پاره د تیرو اوږدو کلونو په جریان کی پانگه اچونه کړی وه د ماتی سره مخامخ کاندی. همدا دلیل و چی ببرک کارمل د شوروی نظامی اشغال ته د ثور د انقلاب د نجات د مرحلی نوم ورکړ او امین یی د (سی،آی،ای) جاسوس وباله.
دریم : د خروسچف له مړینی وروسته د برژنف دوکتورین خصوصاً په ویتنام کی د امریکا د ماتی نه وروسته، د شوروی په مقابل کی د امریکا د نرم سیاست چلونه هم هغه دلیل و، چی د شوروی اتحاد د کمونست کند مشر برژنف او ځنی نور په دی باوری ول چی د افغانستان په اشغال سره به د دریمی نړی په هیوادونو کی د دوی د لا زیاتو بریاو سبب جوړشی. د ایران پاچا محمد رضاشاه پهلوی د ثور د کودتا په وړاندی خپل عکس العمل داسی څرگند کړی و:« هرگاه غرب بالخصوص ایالات متحده

امریکا در برابر پیشروی اتحاد شوروی در حبشه و انگولا از خود عکس العمل نشان میداد، کودتا ی ثور در افغانستان بوقوع نمی پیوست» ( اثر قدوس لودین صفحه ۱۸۳)

څلورم: په ایران کی د شاهی نظام ړنګیدل چی په منطقه کیی د امریکا د ژندارم حیثیت در لود او پرځایی د امریکا دښمنه اسلامی جمهوریت قایمیدل او ورسره په څنګ کی د ایران د تودی د کمونست ګوند موجودیت، او د ایران د نوی اسلامی دولت له خوا د۱۹۷۹ کال د نومبر په میاشت کی د امریکایی دیپلوماتانو یرغمل نیول ټول هغه عوامل ول چی امریکا نه غوښتل او هم یی نه شو کولای چی په افغانستان باندی د شوروی د یرغل په وړاندی په مستقیمه توګه څه سر ته ورسوی.

پاکستان هم په داسی موقف کی نه و، چی د جنوب په لور د شوروی اتحاد دلشکر کشی په وړاندی څه مؤثر ګام پورته کړای شی . ځکه جنرال ضیاء تازه د کودتا له لاری واک ته رسیدلی و او ذوالفقار علی بوتویی چی د پیوپل د قوی سیاسی ګوند لیډر و په دار ځړولی و، نظامی وضعیت یی هم د نن په څیر نه و ، نو د ځان په ګټه یی سم سیاست غوره کړ او د افغان مهاجرو له وجود نه یی دومره اعظمی ګټه پورته کړه چی له یوی خوا یی خپل دایمی حریف هیواد افغانستان ته نه جبیره کیدونکی تاوانونه ورسول اوله بل خوایی د مهاجرو سره د مرسته شوو پیسو په زور آن د اتومی وسلی خاوند هیواد هم و ګرځاو ه او خپل جنوبی دښمن ګاونډی د هندوستان هیواد ته یی هم د یوه قوی دښمن په توګه ځان تثبیت کړ.

او بلاخره د څیرونکو له نظره د دی اشغال پنځم دلیل د افغانی ټولنی غلطه او ناسمه پیژندنه وه د شوروی زعامت له اړخه، چی د خپلو ناپوهو جاسوسان په ذریعه یی دا قبوله کړه چی امین یو ظالم او خون کار دکتاتور دی چی دافغانانو په سر نازل شویدی. که مونږ د ا دکتاتور ددوی له سره لیری کړو نو افغانان به د شوروی اتحاد عسکرو ته د نجات د پرښتو په سترګه وکوری او شوروی دولت به په اسانی سره د دی هیواد د چارو واګی په لاس کی واخلی او ورو ورو به دتزار هغه نظر په عمل کی پلی کړی چی ګرمو اوبو ته د رسیدو پاره یی په سر کی پروت و. ( چی د دی غلطو معلوماتو په ورکونه کی د پرچم د ډلی برخه د نورو نه زیاته محاسبه شویده.)

خو ځنی څیرونکی په دی باور دی چی ګرمو او بو ته د رسیدو مفکوره یوه زړه مفکوره ده او شوروی اتحاد په افغانستان باندی د دی دپاره حمله وکړه چی هغه د خپل هیواد پوری د مرکزی اسیا د نورو هیوادو په بنه و تړی او که د نوری نړی د هیوادو په مرسته د افغانانو د مقاومت سره نه وای مخامخ شوی نو امکان یی لاره چی افغانستان خپل شپاړسم جمهوریت اعلان کاندی او د دی هیواد د ځمکی لاندی شتمنی چی د همدوی د متخصیصینو له له خوا کشف شوی وی د خپل تسلط لاندی راولی.

په هرصورت شوروی اتحاد په افغانستان باندی د ۱۳۵۸ کال د جدی د میاشتی په شپږمه نیټه چی د ۱۹۷۹کال دسمبر د میاشتی د ۲۷ نیټی سره برابره ده ،نظامی حمله وکړه، جمهور رئس حفیظ الله امین یی د کابل په وخت په او بجو او دیرشو دقیقو د دارالامان په مانی کی و واژه. د دی وسله والی حملی سر جوخت ببرک کارمل د شوروی ازبکستان د تر مز له ښار څخه د یوی رادیو وینا په طرز کی د امین د وژلو او د له منځه تلو خبر د افغانستان خلکو ته د یوه ستر زیری په توګه واروه او افغانانو ته یی د دی لوی دکتاتور د ظالمانه دوری د ختم له کبله مبارکی ورکړه . ببرک کارمل دی مرحملی ته د ثور د انقلاب د دویم او تکاملی مرحلی نوم ورکړ. او په راسبا باندی ببرک کارمل د شوروی اتحاد په اوږو سور کابل ته را انتقال شو او د ګوند د عمومی منشی او د انقلابی شورا درئس او صدر اعظم په توګه، سلطانعلی کشتمند او اسدالله سروری د کارمل د مرستیالانو په توګه، محمد رفیع د دفاع د وزیر او ډاکتر نجیب الله د خدمات اطلاعات دولتی (خاد) د اداری د رئس په توګه و ګمارل شو. د امین د وخت زندانیان له زندانونو نه خوشی شول خو د شوروی د عسکرو په لیدو سره هر چا ځان په زندان کی محسوساوه او داسی یو سکوت را منځ ته شو چی هیچا خپلو پوښتنو ته ځواب نه شو میندلی.

ما په خپله اداره کی د زایخف په نوم یو مشاور درلوده چی شپږم د جدی نه دوه دری ورځی وروسته دفتر ته راغی نو ماته یی و ویل چی « زمونږ نظامی قواوی د افغانستان د دمو کراتیک دولت د تیرو غوښتنو په اساس دلته راغلی دی او له دری اونیو وروسته به تر شپږو میاشتو پوری په مکمله توګه بیرته خپل هیواد ته ستانه شی، دوی صرف د دی د پاره راغلی چی د ثور انقلاب د سقوط نه وژغوری، او هیڅکله دلته د ډیر وخت د پاتی کیدو خیال ور سره نشته دی»

که څه هم د افغانستان په خاوره د شوروی اتحاد دا وسله وال یرغل په نړیواله سویه د سختو غندنو او عکس العملونو سره مخامخ شو، خو تر هغه وخته یې د هیچا غږ وانه وریده تر څو چې د شوروی اتحاد دولت په اقتصادی لحاظ نور د دی ستر بار د اوچتولو توان له لاسه ورکړ،له یوی خوا، اود افغانانو د مقاومت د ډلو سره د نړیوالو د هر اړخیزو مرستو دوام له بلی خوا یرغلگر ځواک په گونډو کیدو ته نژدی کړ نو یې د ملگرو ملتو د سازمان په منځگړیتوب د ژنیو د توافقاتود پنځه فقره ایزه پلان په تصویب سره ځانته د وړو پوزه کینوده او د بیلویونو ډالرو د مالی خساری او د د لسونو زرونو عسکرو له وژلو کیدو او معیوب کیدو وروسته له افغانستان څخه و تل.

د ۱۳۵۸ کال د جدی شپږمه نیټه د افغانستان په تاریخ کی یوه هسی بدرنگه او ناوړه ورځ ده چی ساری نه لری. د روسانو وسله وال تیری د ټول افغانستان د تباهی او بر بادی لامل شو. همدی تیری د افغانستان بد نیتو گاونډیو ته د دی زمینه برابره کړه چی افغانانو ته دومره ژوره خساره ورسوی چی په پیړیو پیړیو کی د جبران او تلافی کیدو امکان ونه لری. همدی توری ورځی په افغانستان د نورو لاتورو ورځو د راتلو د پاره زمینه برابره کړه. همدا ورځ د دی باعث شوه چی د وروڼو په څیر متحد افغان قومونه په هسی سیاسی، مذهبی، ژبنیو، سمتی او قومی دښمنی سره واړوی چی د بیا رغیدو د پاره یی له نن څخه د بابادم د پیداینسته پوری عمر ته اړتیاده. همدی ورځی افغانان د ټولی دنیا په هیوادونو کی لکه د باران د ځاڅکو په څیر و پاشل او د هر کس ناکس په لوریی د دوی د احتیاج لاسونه و غزول او بلاخره همدا توره ورځ د دی سبب شوله چی د افغانانو تر منځ یی د باور او اعتماد ټولی نیلی و چی کړی او دیوی مور بچی یی یو پر بل دومره بی اعتماده کړل چی ورور ته هم د دښمن په سترگه گوری.

اوس مونږ ته د دی توری ورځی د ټولو پرله پسی رارسیدونکو زیانونو نه د خلاصون د پاره بله هیڅ چاره نشته بی له تعلیم او په ځان باندی او یو پر بل باندی له باور کولو څخه. یواځی د پوهی د حاصولو نسخه له دی ورځی څخه د را پیدا شوو نارغیو د پاره درمان کیدلی شی او بس.

پای